# د احمد شاه بابا د اشعارو ځانګړنې

**سریزه** خېړونکی: محمد حنیف صافی

د لوی الله (ج) څخه په ډېره مننه سره، چې زموږ مسلمان ولس ته داسې نومیالی، عادل، هېواد پال، بنسټ اېښودونکی، هېواد ساتونکی، لوی لیکوال، شاعر، سیاستوال او مهربانه انسان احمد شاه درانی یې د افغان ولس ته وروباښه. ما په دې مقاله کې د لوی احمد شاه بابا په ژوندلیک او اشعارو په ځانګړتیاوو باندې یوه لنډه کتنه کړې ده.

پښتو یوه لرغونې تاریخي ژبه ده، چې ویاړلي خلک او تېر پرې خبرې کوي، موږ د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې درې مهمې دورې لرو، چې دا درې دورې ډېرې مهمې دورې دي، لکه لرغونې دوره، منځنۍ دوره او معاصره دوره ده. زه له دې درې دورو څخه په ځانګړې ډول په منځنۍ دورې( احمد شاه بابا د اشعارو ځانګړنو) بحث او څېړنه کوم.

پښتو ژبه لکه څنګه چې پورته اشاره وشوه، د ځانه تاریخي دورې لري. هره دوره یې په خپله ارته لمن کې داسې ویاړلي بچیان لري، چې نومونه یې تر ابده پورې ژوندي دي. پر ادبي او هنري کړنو به یې د تل لپاره خلک ویاړي. زه په دې مقاله کې د ټولو په استازیتوب د احمد شاه بابا په هغه نامتو شاعر او لیکوال په اړه بحث کوم، چې تل یې په نړۍ کې ډېرې ښې کارنامې او روښانه تاریخي نوم ساتلی دی، چې موږ ټول پښتانه پرې ویاړو.

# احمد شاه بابا

زموږ د هېواد نومیالی مشر احمد شاه بابا په (۱۱۳۵هـ ق)،(۱۷۲۲م) کال په هرات کې زېږېدلی و. پلارېې زمان خان نومېده، چې په هرات کې د افغاني قبیلو مشر و. [۶(۱۴۳م)]

احمد شاه بابا د نادر افشار له مړینې څخه وروسته د جرګې په نهمه ورځ د هېواد واکمن په توګه وټاکل شو او د شیر سرخ لویه جرګه په بري پای ته ورسېده. [۶(۱۴۴م)]

احمد شاه بابا له ظالمانو څخه د خلکو د ژغورنې لپاره لښکرکشۍ هم کړې دي؛ خو دی د پښتنې دود سره سم تل د مسالمت او اسلامي ورورولۍ او عفوې طرفدار سړی و. [۷(۲۳۷م)]

احمد شاه بابا د خپلې واکمنۍ په موده کې کله کله د وخت د غوښتنې او خپل ملي او اسلامي مسوولیت د سر ته رسولو له پاره دې ته هم اړشو، چې د خپل هېواد له سرحداتو څخه د باندې د هند تر ډیلي پورې، یا په لویدیځه خوا تر مشهد پورې او همدا رنګه تر بخارا پورې خپلې لښکرې ولېږلې او هغه ملکونه یې تول فتح کړل؛ خو له دغه بریدونو څخه هغه هېڅکله دا غرض نه درلود، چې هغه دې ګوندې د نورو فاتحانو په شان د یوې لویې امپراتورۍ د جوړولو اراده ولري. هغه له خپل هېواد سره دومره مینه لرله، چې د ډیلي تخت و تاج یې د خپل وطن له وچو دښتو او غرونو سره نه برابر و. [۶(۱۴۶م)]

احمد شاه بابا له یوې خوا غوښتل، چې دغو ملکونو ته د عبرت داسې درس ورکړي، چې بیا هېڅکله افغانانو او د هغوی هېواد ته په بده سترګه ونه ګوري. له بلې خوا یې هند ته وروستي سفرونه د هغه ځای د مسلمانانو حاکمانو او دیني، مذهبي او روحاني مشرانو، خصوصا شاه ولي الله (رح) په بلنه وو. [۶(۱۴۶م)]

لنډه داچې احمد شاه بابا زموږ د هېواد یو دین پالونکی، هېواد پالونکی، علم دوست، عادل، مهربان او د ټولو غوره اسلامي اخلاقي او افغاني سپېڅلو خویونو خاوند ملی مشر و. [۴(۱۱م)]

احمد شاه بابا له خپلو سیاسي، اجتماعي او ملي خدماتو سربېره د خپل هېواد د فرهنګ لپاره هم نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. د پارسي او پښتو ژبو شاعران، لیکوال او عالمان یې نازولي دي. له دې سربېره

دی خپله د پښتو ژبې شاعر و. په پښتو ژبه ترې د شعر یو دېوان پاتې دی، چې د بیتونو شمېر یې دوه نیمو زرو ته رسېږي. [۷](۲۳۷م)

زموږ دغه ملي نومیالی مشر ملت ته تر(۲۶) کالو ملي وياړلو خدمتونو وروسته په (۱۱۸۶هـ ق) (۱۷۷۲م) کال د رجب د میاشتې په شلمه په توبه کې وفات شو او جنازه یې کندهار ته راوړل شوه او کندهار په احمد شاهي ښار کې خاورو ته وسپارل شوه. [۶](۱۴۷م)

## د احمد شاه بابا د اشعارو ځانګړنې

د تورې او قلم شاهنشاه دراني احمدشاه بابا د پښتنو له هغو نومیالیو فرهنګیالیو او جنګیالیو ګوتې په شمار میړنو څخه دی، چې څو سوه کاله په فاني او لالهانده نړۍ کې ځیرکې سترګې غړولي دي ، د خپلې پوهې او فرهنګ په لاره کې یې د علم او ادب په جهان کې درانه آثار له ځانه څخه په میراث مونږ ته پریښي دي. د تورې په میدان کې یې خپل زړورتوب افغانانو ته لویه شاهنشاهي او امپراتوري جوړه کړې وه، چې په دغه دواړو خواوو کې یې د اتلولۍ نوم ژوندی، تلپاتي او جاویدان دی، لکه د خوشحال خان بابا په قول چې وایي:

میړني دي چې یادېږي

په سندرو هم په وېر [۵(۵۲م)]

احمدشاه بابا مړ نه دی، دی د ژوند په لوړو یادو شویو دواړو خواوو کې د تل لپاره ژوندی دی، او هره ګړۍ یې نوم په درنښت او بابا سره یادیږي، په ستر نوم یې فرهنګي ټولنې سیمینارونه او علمي محفلونه جوړوي او یادون یې په مینه لمانځي .

شاهنشاه او لوی واکمن احمدشاه بابا ۲۴۸ کاله د مخه له دې فانې او لالهانده نړۍ څخه سترګې پټې کړي دي؛ خو دده ستر سیاسي کارونه لوړ او عالي فکرونه د خواخوږۍ اندیښنې د یووالي او بشردوستۍ پاکې غوښتنې او ملي هماسې تلپاتي دي، او هر بشر دوست انسان یې لولي ، مطالعه کوي یې او دده له لوړو او عالي افکارو سترو کارونو کارنامو او مذهبي سپیڅلتیاوو څخه ګټه او خوند اخلي. خارجي پوه ډاکټر ګنداسنګ د بابا د شخصیت په باره کې لیکلي دي: ( هغه یو پیدایشي سپاهي و، یو فطري مشر و، او کلک پښتون و، یو انسان دوست حاکم و ، یو عالي منتظم او د علم او ادب سرپرست و).

د افغاستان د توریالي او میړني ولس د مدني میراث په، رنګین ګلورین ښکلي او شتمن ښیرازه ادبي بڼ کې احمدشاه بابا او دده ادبي او فرهنګي ګلون ځانته ځانګړی ارزښتمن مقام او درجه لري. دده ساده او روان شعر تصوفي، اخلاقي، عشقي او حماسي موضوعاتو باندې رنګین او په خاصه ادبي جلوه را غوړیدلی دی، څوک چې دده له اشعارو سره لږ او ډیر اشنا وي هغه پوهیږي چې دراني احمدشاه بابا د پښتو ژبې یو ښه شاعر او ځلانده ادبي ستوری تیر شوی دی چې د پښتو ادب په تاریخ کې یې د رحمان بابا د ادب غوره لار ځانته خپله کړې او په هغې لاره یې قدم ایښی دی.

شیرین عمر چې تېرېږي دریغه دریغه

د اوبـــو په خیر بهېږي درېغه درېغه

ولې زړه په خبـــر نه دی له رفتــنه

چې دا هسې ژر تېرېږي درېغه درېغه (۱ ۲۱۹م)

دده د شعر ژبه ساده او عام فهمه ده. ده په خپل شعر کې د بحر د لنډوالي او اوږدوالي پروا نه ده ساتلې او شعرونه یې ولسي شعرته نږدې دي ، په یوه بیت کې د خپل فرهنګي او خوږ شعر په برخه کې وایي:

وصف د یار به تمام نه وي

احمد جوړ کړه کـتــــابونه (۵ ۵۳م)

د بابا اشعار د رنګینو تشبیهاتو په رنګینیو هم رنګین شوی دی ، چې دا دوه بیتونه په د مثال په ډول وړاندې کړم.

سیمین تــنه ګلـبدنـــه

شــــکرلــــبــه دل آزاره

عنبربویه سـنبل مویـــه

پـــــوره وړي له عطـــاره (۵ ۵۳م)

همدارنګه د توري د میدان د اتل بابا او د ادب د جهان د باتور احمدشاه بابا د لنډ بحر خواږه اشعار د ادبي صنایعو په ښکلاوو هم ښکلي شوي دي، چې دا لاندې بیتونه به یې د بیلګې په توګه وړاندې کړو.

بهــــار راغی بیا پــــــه مخ د ګلستــان ســتا

خزان تیر شه اوس هوس کړم په بوستان ستا (۵ ۵۳م)

***

مرګ ژوندون به سره یو شي

که خـبر شي له دې بــــابه (۵ ۵۴م)

***

که ښا دي وي په ښادۍ پسې بیا غم دی

د دنیــــا کـاروانــــه واړه بې تـــرتیـــــبــه (۵ ۵۴م)

***

ما چې کوت مخ د شهۍ تر اوربل لاندې
لکه نور چې پر اوره راشي د بـــــانـدې [۵(۵۴م)]

***

ما هر حسن ستا له حسن سره قیاس کړ
چـیرې وچ لرګی او چیرې لښـــــــتې تانـــدې [۵(۵۴م)]

لکه څرنګه چې مو د مخه یادونه وکړه، چې د احمدشاه بابا په اشعارو کې مختلف موضوعات بیان شوي دي لکه : تصوفي ،اجتماعي، عشقي، حماسي او داسې نور ... چې دلته پرې په لنډه توګه رڼا اچوو.

تصوفي: د احمدشاه بابا په اند ریښتونې مینه هېڅکله نه فنا کیږي بلکې تل به وي، لکه په لاندې بیت کې چې وايي:

وښه عشق لره فناه نشته هېچیرې
شي فاني باقي ، بـــقاشي هم فـنـــا [۱(۴م)]

په پورته بیت کې د شاعر مطلب له ښه عشق څخه د خدای (ج) مینه ده نه مجازي مینه؛ ځکه چې ټولې دنیا یې مینې فانې کیدونکي دي. احمدشاه بابا نفس له غلیم سره تشبیه کړی دی وایي که څوک له دغه دښمن سره په سمه توګه مقابله ونه کړي؛ نو له سمې لارې به واوړي په دې هکله په خپل یو بیت کې داسې وایي :

نفس غلیم را ته ولاړ دی ستا په لار یم یـــا حفیظه
تـل پـــه یـــاد ستا د بري دي انتظار یم یا حفیظه [۱(۱۳۸م)]

په دې بیت شاعر له خپل ساتونکي یعنې د خدای(ج) څخه دعا کوي، چې زما د نفس غلیم سره مقابله ده او په دې انتظار یم چې ماته په دې لاره کې بری را په برخه کړې.

حنان بارکزی وايي:

الهي د خپـــــل حبیب لـــه برکتـــه
ته په فضل ما «حنان» ته د زړه کام را [۲ (۳۵م)]

یونس وايي:

چې پخپلــه ځان ونــه ژاړې «یونســه»

دهغه به ماتم څوک کاچې بې کس وي [۳ (۱۷۴م)]

احمد شاه بابا ځان ګنهکار ګڼي؛ خو بیا هم د خپل خالق د مهربانۍ څخه ډېر هیله مند دی لکه چې وايي:

زه زارۍ کـــــــــوم الله

شرمنـــــده یم پرګناه

نا امید ستا له رحمتـه

تللی نـــــه دی لـه درګاه [۱(۸۱م)]

اجتماعي اشعار : احمدشاه بابا په خپل دېوان کې ډیر په زړه پورې اجتماعي اشعار هم راوړي دي. خپلې ټولنې ته ډېرې غوره لارښونې کوي. خپله ټولنه د علم حاصلولو ته هڅوي لکه چې وايي :

علم ګوره څرګنـــده لوی دریـــاب دی

بیا هم دی را ېهیدلی په څو بـــاب دی

دا د علم دریاب هر چیرې محیط دی

علم زدکړه چې د عـــلم لوړ جناب دی [۱(۲۸۹م)]

په پورته بیت کې احمد شاه بابا وايي که څوک غواړي، چې لوړ مقام ترلاسه کړي او ټول اعمال یې ښه شي؛ نو باید علم حاصل کړي. د احمد شاه بابا په نظر تر ټولو سخت حالت دغه دی، چې څوک د یو چا څخه طمعه کوي په دې اړه وایې:

پــــه دنـیا کې سخت ساعـت دغـه دی

احمده، څوک دې نه شي دست په طمعه [۱(۳۲۲م)]

احمدشاه بابا د انسان لوړوالی د هغه په اعمالو او اخلاقو پورې اړونده بولي. په دې هکله په خپل یو شعر کې داسې وايي:

خوبي درلـره بـــويـــه

ای بشـــــر د آدم زويـه

ته زمـا خـبــــره واوره

ورځ به درشي هغه لويه [۱(۳۱۰م)]

تصوفي اشعار: که د احمد شاه بابا دیوان ولولو نو پر نورو شعرونو سربیره په کې د تصوفي اشعارو پله هم درنده ده. د احمد شاه بابا په اند دا دنیا تیریدونکې ده او د دنیا په عمر هوس نه دی پکار ، په دې اړه وایي:

د دنیــا عمر تېرېـــــــږي

غافــل پرې هوسېـــــږي

کـم نادان په دا نازیـــږي

چې شیریـن عمر تیـــریـــږي [۱](۳۰۳م)

احمدشاه بابا وایي د کلمې تکرار د زړه سلامتي ده، چې په دې سره د انسان زړه ته ارام رسېږي؛ نو انسان باید د هر نفس ویستلو سره کلمه ووایي، په دې اړه وایي:

لااله الاالله څـــــه ښـــــه نـــــوم دی یـا الله

لااله بـه تل وایـــم څه ښه نـــوم دی یـا الله

هر نفس چې مې چلېږي زما زړه په تا نــــازیږي

په هردم کې چې دا وایم څه ښه نوم دی یا الله [۱](۸۴م)

عشقي اشعار :- که د احمد شاه بابا ټول اشعار مطالعه کړو نو تر ټولو چې زیاته کلمه تر سترګو کېږي هغه د عشق کلمه ده، د یادولو وړده، چې احمدشاه بابا د مجازي او حقیقي عشق په هکله اشعار ویلي دي، احمدشاه بابا عشق له اور سره تشبیه کوي په دې هکله وایي

عشق یو اور دی د عاشق په زړه بلېږي

چې یار ووینې کله دی په زړه غمګین دی [۱](۲۶۷م)

احمد شاه بابا عاشق په هر حالت کې محترم ګڼي، هغه که فقر وي که پادشاهي وي ، دې مطلب ته داسې اشاره کوي:

دا دعشق د بادشاهانو هسې کار دی

چې د فقر په جامو کې محتـــرم دی [۱](۲۴۳م)

په بل ځای کې د عشق په هکله داسې وایي:

عشق خوږه ګوله زقوم غوندې ترخه کا

چې يې وويني خوند نه کا خپلې پيـــــاڅې [۱](۲۱۳م)

بل ځای کې د عشق په هکله وايي:

د عاشق د زړه چمن به شين نه شي

سـتــــا دکرم مگر شي بـــــارانـــــونه [۱](۲۰۰م)

حماسي او سياسي اشعار:- دا يوه څرگنده خبره ده، چې احمد شاه بابا د خپل عمر ډېره برخه د سياست په ډگر کې تېره کړې ده. د خپل هېواد سرحدونه يې ټاکلي دي، چې په دې برخه کې د نوموړي يو شعر راوړم، چې دده سياسي افکار او د هېواد سره مينه ترې په ښه توگه څرگندېږي:

ستا د عشق له وينو ډک شوه ځيگرونه

ستا پـــه لاره کې بـــــايلي زلمي سرونـه

تــــاتــــه راشمه زړگی زما فـــــــارغ شي

بې له تـــــا مې اندېښنې د زړه مـــــارونه

کـه هر څو مې د دنيا ملکونــه ډېر شي

زما به هېر نه شي دا ستا ښکلي باغونه

د ډهلي تخت هـېــــرومه چې راياد کړم

زما د ښکلي پښتونخوا د غــــرو سرونه

احمـدشاه به دغه ستا قدر هېر نـــه کا

کـه ونيسي د تــمـــــام جهـــان ملکونـه [۱](۱۹۱-۱۹۲م)

احمدشاه بابا يو زړور پاچا و، له چا څخه يې وېره نه درلوده هرې خوا ته، چې يې مخه شوې برى يې تر لاسه کړی، په دې هکله داسې وايي:

احمــد وېره له چا نه کـا

که يورب يې شي په لورې [۱](۲۱۹م)

## پایله

شاعر د ټولنې یو ربښتنی انځورګر، شاعر دی، چې ټولنه د وینښتیا او پرمختیا لور ته بیایي، که چېرته موږ او تاسې د خپل ګران هېواد تېر تاریخ ته نظر وکړو؛ نو یوازې نومیالي او شاعران و، چې د پام وړ رول یې لوبولی دی.

ځینې شاعران د خپل یو یا څو شعرونو په خپرېدو سره مشهور شوي دي. ځینې بیا داسې هم وي، چې په خپل شعر کې د لفظي او معنوي ښکلاوو په کارولو سره خپل شعر ته وده ورکوي او د خلکو پام ځانته رااړوي. احمد شاه بابا په اشعارو کې د دېواني اشعارو لویه برخه شتون لري. د لوی دراني په دېوان کې غزلې، رباعیات، مثنوي او نور عربي فورمونه هم لېدل کېږي.

کله چې عام لوستونکي یو ادبي اثر لولي، تشریح، تفسیر مانا کوي؛ نو شعر د شعري فورم (بڼې)څخه ناخبر وي. خپل ذهني طبعیت او انفرادي تجربې پر بنسټ یې تفسیر،مانا کوي، چې کله کله ډېر پیچلي اړخونه د لوستونکي مخ ته راځي او ورڅخه پاتې کېږي. دا بیا ډېرې ستونزې را ولاړوي؛ نو د دې لپاره، چې د احمد شاه بابا د اشعارو ځانګړنې د هغه مفکورې باندې هر اړخیزې څېړنې وشي، تر څو لوستونکي ترې د خپلې وسې پورې ګټه تر لاسه کړي. خدای(ج) دې وکړي، چې زما دغه زیار لوستونکو او مینه والو ته د پام وړ وګرځي.

## اخځلیک


۱.ابدالي، احمد شاه.(۱۳۷۸ل ). **د احمدشاه بابا دېوان**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۲.بارکزی، میرزا حنان. (۱۳۸۸ل). **دمیرزاحنان بارکزي دیوان**. لاهور: صحاف نشراتي مؤسسه.

۳.خیبري، محمد یونس. (۱۳۵۶ل). **د یونس دیوان**. کابل: د اطلاعاتو کلتور وزارت د پښتو پرمختیا او پیاوړتیا امریت.

۴. فرياد افغان، نجم الدين.(۱۳۸۸ل). **نګرشی بر تاريخ معاصر افغانستان**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۵. منګل، علي محمد.( ۱۳۸۳ل). **توريالی او فرهنګيالی احمدشاه بابا** .پیښور: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

۶.واجد، عبدالواجد. (۱۳۹۱ل). **د پښتو کلاسیکو ادبیاتو تاریخ**، دویمه دوره. کابل: د هند رېپرو مطبعه.

۷.هېوادمل، زلمی. (۱۳۷۹ل). **د پښتو ادبیاتو تاریخ**. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.